د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت
آمریت عمومی نظارت بانکی و خدمات مالی

گڼه: ۱۸۴۰ م م
۱۵۲۸۶/۱۵۴۰
نېټه: ۱۴۴۶/۰۲/۱۷

DA AFGHANISTAN BANK

**د افغانستان بانک**

---

بسم الله الرحمن الرحیم

تولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته وبعد:

**موضوع: د جعلي، دوه شمېره يي او دوه سره بانکنوټونو د نه چلند اروند**

له ډېر درناوي وروسته؛

د دې اداري د ۸۲۳۰ ګڼې ۱۴۴۵/۰۷/۱۰ نېټې متحدالمال په تعقیب او د قدرمن عامل پلاوي د ۵۲ ګڼې ۱۴۴۶/۰۲/۰۹ نېټې پرېکړه لیک پر بنسټ داسی لیکل کیږي:
که چېرې د کوم مشتري له لوري دوه شمېره يي او دوه سره بانکنوټونه د تعویض په موخه او یا د استفادې پر وخت بانکونو ته وروړل شي، په مندرسو پیسو کې دې نه حسابیږي د پخوا په شان دې سوري/پنچ او باطل کړل شي او بېرته دې مشتري ته ورکړل شي.
همدارنګه، ټول مجوز بانکونه دي په خپلو ورځنیو راکړو ورکړو کې د جعلي او دوه کله يي افغاني بانکنوټونو په شان د دوه شمېره يي افغاني بانکنوټونو له استعمال څخه په کلکه ډډه وکړئ.
بناءً ټولو قدرمنو بانکونو ته لارښوونه کیږي، څو د یاد پرېکړه لیک مطابق اړیني کړنې ترسره کړئ.

د افغانستان بانک د وخت څخه په ګټې اخیستنې، ستاسو د لا زیاتو برياوو غوښتونکی دي.

په درنښت

۱۴۴۶/۲/۱۶

صدیق الله خالد
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

کاپي:
- د بانکي عملیاتو قدرمن لوی آمریت ته
- د ریاست د دفتر قدرمن لوی آمریت ته
- د غیر بانکي مؤسساتو د څارنې قدرمن لوی آمریت ته
- د افغانستان د بانکونو قدرمنې ټولنې ته
- د پولي سیاست قدرمن لوی آمریت ته

---

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۷۶۱ ۲۱ (۲۰) ۹۳ ۰۰۹۳/
تولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - entralbank